استاد شپون یوه داسې علمي او اکاډمکه څېره تېره شوې ده، چې د هنري نثري آثارو ترڅنګ یې منظوم او څېړنیز آثار راپاتې شوي دي. د ده ټول آثار پوهاند دوکتور لعل پاچا ازمون راټول کړي دي او له هرې برخـــې څخه یې جلاجلا کلیات جوړ کړی دی داچې د دې مقالې په لمن کې د ده د ټولو آثارو راوړل ناشوني دي؛ نو د موضوع له معنوي اړخ سره به سم یوازې د ده داستاني آثارو ته لنډه نغوته وکړو. ازمــون د استاد شپون داستاني کلیات ( په شګو کې سره زر) تر سرلیک لاندې راټول کړی او په (۱۳۹۸ ل) کال کې یې چاپ کړی دی، د ده کیسه‌ییز یا داستاني آ ثار یې پکې راوړي دي، چې دغه لاندې برخې لري.(خورې ورې کیسې ـ د بنګې غاړه، شین ټاغی، ګټیالی، د سمڅې یاران ،ښایستو، یوه لویشت ژوند، زوړ سړی او سیند، و، نه و، یو شپون وو.

**۳. په (و نه و یو شپون وو) کې د مکان تصویر**

داچې(و نه و یو شپون وو) د استاد شپون د ځان پېښنو یا خاطرو د یوې ټولګې په نامه سره یاده شوې ده، څرنګه چې زموږ د بحث اصلي موضوع په دغه (ونه نه و یو شپون وو ) کې د مکان د تصویر څېړنه ده؛ نو په ترتیب سره په لنډه توګه د ځان پېښې مکان او زمان، همداراز د تصویر کلمې ته تم شو.

یو؛ ځان پېښې: د لیکوال د ژوند د پېښنو او خاطرو لیکلو ته وایي چې د ده ټول ژوند او یا د ژوند ځینـې برخـې را چاپېروي.په انګریزي ژبه کې ورته اتو بیو ګرافي (Autobiography) وایي په پښتو ژبه کې ورته د ځان پېښنو یا ځان پېښې نومونه کارول شوې ده.په فارسي ژبه کې یې د خاطره لیکلو یا (خاطره نویسي) په نوم یادوي. په اردو ژبه کې ورته (اپ بیتي) وایي، خو د نوشت او حســـب حـــال نومونه هم ورته استعمال شوي دي.(باجوړی ، الف ،۱۳۹۴: ۱۴).

دوه؛ مکان او زمان : محمد آصیف عمر په خپل یو اثر کې چې د ښه ناول وپېژنئ په نامه سره یادېږي د مکان او زمان اړوند داسې لیکي: (( په ټوله کې بې له مکان څخه کیسه وجود نه لري، زمان او مکان له نقشې سره د پېښنو په تنظیم کې مرسته کوي چې هم کرکټرونه په ښه توګه تشریح کوي او هم کیسې ته له موضوع سره تړاو ورکوي.))( عمر، ۱۳۴۹: ۴۳). همدا راز د مکان او زمان د تړاو په اړه نثار احمد آریا په خپل یو اثر کې چې د ناول لیکنې تیوري نومېږي دا سې څرګندونې لري: (( زمان او

مکان هم د ناول له عناصرو څخه ګڼل کېږي، د ناول دې عنصر ته پاملرنه خاص ارزښت او موخې لري، د زمان او مکان د ښوولو لومړی لوی ارزښت په دې کې دی چې ناول حقیقت ته نژدې کوي، په ناول کې چې د زمان او مکان مشخصولوته هر [څونده ] ډېره پاملرنه وشي [هغونده] د ناول پر هنریت اغېز کوي او لوستونکي ته ریښتینی ښکاري.))( آریا، ۲۰۲۹: ۱۳۱).

درېیم؛ تصویر: د تصویر په اړه استاد اسدالله غضنفر په خپل یو اثر کې چې جادوګر هنر نومېږي داسې لیکي: (( د اروا پوهنې په اساس له حواسو سره د شیانو د مخامخېدنې په نتیجه کې چې په ذهن کې کوم صورت او شکل پیدا کېږي هغه احساس یا حسي ادارك بولو، خو کله چې دغه ذهني صورتونه له شیانو سره له مخامخېدو پرته په ذهن کې پیدا شي د خیال یا جز یي تصور په نوم یې یادوو.))( غضنفر، ۱۳۹۳: ۴۵۲). همداراز استاد اسد الله غضنفر او نجیب منلی په خپل یو ګډ اثر کې چې د ادبیاتو دنیا نومېږي د تصویر په اړه دا سې لیکي: (( په داستانو نو کې ۹۰٪ راغلي تصویرونه معمولاً بصري وي، له سترګو سره تعلق لري په دې کې شك نشته چې نور خاص تصویرونه هم هنر ته خاص خوند ورکوي.)) ( غضنفر، الف ، ۱۳۹۹: ۲۱۹). داچې زموږ د څېړنې اصلي موضوع د استاد سعدالدین شپون په( و نه و یو شپون و) کې د مکان تصویر ته کتنه ده، نو د دغې موضوع د وضاحت او تحلیل لپاره به د ( خان آباد مځکه او خلك ) تر سرلیك لاندې ځانپېښې څخه یوه ټوټه هنري نثر ولولو: (( خان آباد او کندوز د شمال د پښتنو دوه لوی مرکزونه وو. په اصل کې د لوخو او دروو یو لوی ځنګل وه، چې تر نامه اوبه پکې ډنډ وې او د مور په وینا مې اوښ پکې ډوبېده، ترې چاپېره د غونډیو کړۍ تاوه وه، دا د بنګي د سیند اوبه وې چې ور وبهېدې او د وتلو لار یې غونډیو بنده کړې وه په پېړیو پېړیو دغه دروي او واښه په اوبو کې خوسا شوي او بیا په ختو کې اغږل شوي وو))(ازمون، الف، ۱۳۹۸: ۴۹۳). په دغه نثري ټوټه کې وینو چې لیکوال د خان آباد مځکه او خلك را پېژندلي دي، دلته کندوز او خان آباد د پښتنو دوه د هستوګنې مرکزونه ښودل شوي دي، سربېره پر دې یې د خان آباد ولسوالۍ داسې ترسیم یا انځور کړې ده چې د جغرافیایي موقیعت تر څنګ یې د یادې ولسوالۍ هغه انځورونه وړاندې کړي دي کوم چې لا پخوا پکې د هستوګنې کول ناشوني وه، بیا یې د تخار ولایت د بنګي د اوبو یادونه کړې چې دغه اوبه اوسمهال هم بهېږي، لنډه داچې په دغه نثري ټوټه کې، ځنګل، غونډۍ، لوخې، واښه، دروي او د بنګي اوبه د مکان لپاره د تصویر ښې بیلګې ګڼلای شو.

په یو بله نثري ټوټه کې چې د لارې خاطرې تر عنوان لاندې ده داسې لولو: (( د دې سفر یوه په زړه پورې پېښه په یوگوسلاویې، دوهمه په بلغاریې او دریمه په هرات کې پېښه شوه. د یوگوسلاویې په مرکز بلگراد کې مو په یو پارک کې ډوډۍ خوړله.څه ډوډۍ د مومپلي پنځوس شپېته سانډوېچونه مو چې په جرمني کې جوړ کړي، زموږ د لارې ځوری و، په ټوکرۍ کې مو راوړي وو په هغو مو شخوند واهه چې گورم زموږ تر شا د بنیادم د سر د کوپړیو یو څلی ولاړ دی، زه لاړم گرد چاپېر ترې تاو شوم په رښتیا چې هماغه (کله منار) و چې ما یې په داستانونو کې نوم اوریدلی و د هډوکو کوپړۍ د سترگو ژور غالي خالي، ژامې جینگې، یو ځایې سړي چې زموږ تروړتیا ولیدله نو خپله نیش توکي انگریزي یې راباندې وازمېیله:(دا منار عثماني ترکانو د خلکو د سرونو نه جوړ کړی وو چې نورو ته عبرت شي) ساندویچ راباندې زهر شو، خدای خبر چې رښتیا همداسې وه او که د سټالین کارنامه وه چې په ترکانو یې تپلې وه))( ازمون، الف، ۱۳۹۸: ۷۲۲). په دغه نثري ټوټه کې یوگو سلاوي، بلگرد، پارك او... نور د مکان لپاره د هیواد څخه بهر تصویرونه دي چې لیکوال د خپل د تجربې پرمټ انځور کړي، په دغه سفر کې دی له بېلابېلو پېښو سره په بېلابېلو مکانو کې مخ شوی دی چې د مکان د تصویر تر څنگ یې د انساني انځورونو ښودنه هم کړې ده، له دغه بیان څخه دا تر لاسه کولای شو چې لیکوال په دغه برخه کې د ډېر مهارت خاوند پاتې شوی دی.

د پورتني هنري متن په تسلسل کې د یوې بلې هنرې ټوټې په راوړلو سره چې لیکوال په کې د یوې پېښې بیان هم کړی دی داسې لولو:(( بله پېښه دا وه چې د بلغاریې مرکز،صوفې ته د رسېدو سره سم راباندې ماښام شو، باران وریده، د ښار سړکونه داسې د ختو او چکړو ډك و، چې موټر پکې بندیده، خو ښار تش تور پروت و.هم سترې وو، هم وږي. سانډویچ خو د سرحد نه اپلو د شیان په اروا تللي وو. د دوی په لوز نه پوهېدو او هیڅ څوك هم نه وو،چې سړې یې په اشاره پوه کړي، ښار داسی تیاره و، چې ماته یې د بامیانو شهر غلغله را یاده کړه. د سړك په سم منځ کې مې موټر ودراوه. دواړو غاړو ته دوکانونه خو وو، مگر ټول بند، خو د پلیو لار کې تر سړکه یو څه سودگې وه، تر زنگانه پورې چکړي نه وې ناڅپه مې یوه تته رڼا ولیده چې د یوه دوکانه راختله))(ازمون، الف ، ۱۳۹۸: ۷۲۳). په دغه پورته بېلگه کې د بلغارې مرکز، د ښار سړکونه، ختې او چکړې، د بامیانو شهر غلغله او دوکانونه د مکان لپاره د تصویر ښه بېلگه بللای شو، چې د خپل هیواد یو تاریخي ښار ته په کې اشاره کوي، پاتې دې نه وي چې په کیسه کې دغه ډول انځورول او تشبیه کول کیسه لیکنه کې یو نوښت گڼل کېږي.

د لارې خاطرې څخه په وروستي هنري نثري ټوټه چې لیکوال په خپل هنري متن راوړې ده داسې لولو:((په استانبول کې مې په دوو کلونو کې په اول ځل په جامع جومات کې لمونځ وکړ، خو دومره فرصت نه وو چې یو ځلي قونیې ته لاړ شم، د بلخي مولانا زیارت وکړم. د ډاني په غوښته دوه ورځې هلته تم شوم ده یې خپل دوست چې وعده یې وه ورسره پیدا کړي،خو چې هغه پیدا نه شو نو ډاني هم افغانستان ته درتګ فیصله وکړه، د استانبول نه په موټر سره په بېړۍ کې د ایران شمال ترابزان ته لاړو، بیا د شپې او ورځې په مزل مو چې په نوبت مو موټر چلاوه د تهران او مشهد له لارې ځانونه اسلام کلا ته ورسول همدلته دا درېیمه پېښه وشوه. زموږ سره د ایران ریال و، څو لوټونه او څه تورې پیسې چې ټول درې سوه ریاله جوړېدل، چې په لار د تېلو د اخیستلونه را سره پاتې وې، ما د خدای شکر و ایست چې د وطن په خاوره راغلم او د ډېرې خوشالۍ مې دغه ټول ریالونه هغه سپاهي ته ونیول چې د سرحد په پاټک ولاړ و، هغه دا عجیبه خبره وکړه، تاسو لاړشئ،ګمرګ ته چې موټر راجستر کړئ. ما ورته وویل: دا به وکړو، دغه پیسې درسره واخله، چې موږ ته نه دي پکار؛ هغه په موسکا وویل: دا د غجورو حرامې دي، په افغانستان کې نه چلېږي، د سړي لاس ناولی کوي. وروســــته پوه شوم د قاجاري شاهانو دورې نه پس زیاتره ښتانه هر ایرانی غجر بولي»(ازمون، الف، ۱۳۹۸: ۷۲۲). په دغه هنري نثر کې استانبول، جومات، قونیه، د مولانا(رح) زیارت، افغانستان، ترابزان، تهران او مشهد، اسلام کلا، پاټک او وطن د مکان تصویرونه دي، چې لیکوال په خپل هنري قوت سره په دغه لیکنه کې د زمان او مکان تسلسل په عیني وخت کې ساتلی دی ځکه خو په کیسه کې د مکان تر څنګ زمان هم اړین دی.

په یوه بله ځانپېښنه کې چې د پوهنتون کالونه تر عنوان لاندې ده داسې لولو:(( کوربه هسې په خوله خو جواب نه کړم، مګر کړې مې لیده چې راباندې تنګېده، غم دا و چې که څه هم ما پوهنتون ته عریضه ورکړه چې زه کلیوال یم، د نورو په شان لیله او هاسټل را کئ، خو پوهنتون و نه منله، د عریضې په شا یې ولیکل چې تا حبیبیه لیسه ویلې چې نهاري ( دورځې) لیسه ده، ګویا د اوسېدو ځای دې درلود چې دا شپږ کاله دې په کې تېر کړل ؛ نو اوس موږ تا اطرافي نه ګڼو. د مجبورۍ ورځې مې پل خشتي ته مخامخ یوه کوټه د میاشتې په اویا افغانۍ کرایه کړه، بستره او د وریژو بوجۍ مې ور وچلولې، په بله ورځ مې څه وریژې خرڅې کړې، یونیم سل روپۍ شوې، یو لوی پوزی، د تېلو اشتوب، یوه ټیمي دیګچه، کاشغه او نور مې پرې واخیستل، د ژوند دا پړاو مې پیل کړ))(ازمون، الف، ۱۳۹۸ :۷۰۹)

په دغه پورتنۍ هنري نثري ځانپېښنه کې پوهنتون، کلی، لیلیه او هاسټل، حبیبیه لیسه، اطراف، پل

خشتي او کوټه د مکان تصویرونه دي، چې یو لوی پوزی، د تېلو ټیم، یوه ټیمي دیگچه او کاشغه یې د مکان د اوسېدلو لپاره وسایل گڼل کېږي؛ خو (په بله ورځ ) یې د زمان لپاره نښه گڼلای شو چې د مکان سره پیوست راځي ، دلته لیکوال داسې انځورگري کړې چې له پیله تر پایه پورې په تدریجي توگه په یوه لیوال تللی دی، دا د لیکوال د لیکنې د لاپیاوړتیا ښودلو لپاره یو سند دی، بله داچې فورملستان د محتوا تر څنگ فورم ته هم اهمیت ورکوي، چې دا د لیکوال د لیکنې ساده والی ښیي.

د همدغې ځانپېښې په یو بل پراگراف کې داسې لولو: ((د ادبیاتو په پوهنځي باندې کابلیانو د تنبلتون)) نوم ایښی و، د هغې وجه دا وه چې پوهنځی د سردار شاه محـــــمود خان د کـــــور شاته یوه زړه مانۍ وه چې د ده ناظران به پکې او سېدل. اکثر د پکتیا وو او چې موږ لیدل؛ نو ښایسته خلکو زامن وو چې د نادر شاه سره کابل ته راغلي وو، هغه وخت ډېر په غوره کې وو او چې موږ لیدل نو ښایسه دنگ او ښکلي خلک وو، خو نقص یې دا وو چې اوس زاړه، بوډاگان وو، یو څو په کې د لکړو سره گرځېدل. بس پراته وو ډوډی یې د سردار صیب د پخلنځي غوړ ځکالی وو چې په زنبیلو کې ورته راوړل کېده))(ازمون، الف، ۱۳۹۸، ۷۰۹، ۷۱۰). په پورتنۍ نثري هنري ټوټه کې پوهنځی، تنبلتون، کور، زړه مانۍ، کابل او د سرادار صیب پخلنځی د مکان تصویرونه راوړل شوي دي، چې پوهنځی یې یو علمي مکان دی، کور او پخلنځی یې نسبتا کوچني مکانونه ښودل شوي دي، زړه مانۍ یې یو پخوانی مکان ثابت کړی او کابل یې بیا یو خورا لوی مکان ښولی دی. پاتې دې نه وي چې مکان بې له زمان څخه یوازې نشي راتلای چې دلته نو د ښایسته خلکو زامن وو چې د نارد شاه سره کابل ته راغلي وو، ځکه خو ( راغلي وو) یو زمان دی چې د مکان لپاره راغلی دی.

**پایله**

ټولنه او ادبیات په خپلو کې سره نښلېدونکي اړیکې لري، چې هر یو یې ځانته ځانته پر انسان خپلاغېزې لري، کله چې انساني قوه د خپلو کړنو په تر سره کولو کې بریالۍ او یا هم پاتې راشي، نو له خپل ځان څخه ځیني څرگندونې ښیي، دغه شان ادبیات د انساني ټولنې په ډگر کې د بېلابېلو پېښو انځورگري په هنري بڼه کوي، پښتو ادب چې لرغونې او تاریخي مخینه لري، د یو لړ سیاسي، تاریخي او ټولنیزو واقیعتونو تر څنگ په کیسه‌ییز او داستاني ادب کې په تاریخي پاڼو کې په زرینو کرښو ثبت شوي آثار لري، نو شپون صاحب هم د پښتو ادب په دغه ادبي سیر کې ځیني آثار کښلي دي، چې خورا ډېر خوندور او په زړه پورې دي، د هغو له ډلې څخه و نه و یو شپون وو د ده هغه اثر دی چې د مکان تصویر په کې خورا ښه څرگند دی.

## ماخذونه

آریا، نثار احمد. (۲۰۱۹). د ناول لیکنې تیوري. کابل: سروش کتاب پلورنځی.
ازمون، لعل‌پاچا .(۱۳۹۸ل).په شګوکې سره زر. د استاد شپون داستاني کلیات. ننګرهار: ختیځ خپرندویه ټولنه.
الف.(۱۳۹۸ل). د لفظونو شپون.د استاد شپون نثري کلیات.ننګرهار: ختیځ خپرندویه ټولنه.
ب.(۱۳۹۸ل). په کانړو کې غمي. د استاد شپون منظوم کلیات.ننګرهار: ختیځ خپرندویه ټولنه
باجوړی، بریالی. (۱۳۹۹ل). پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ، کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه
الف. (۱۳۹۴ل). په پښتو ادب کې ځانپېښنې، ننګرهار: ختیځ خپرندویه ټولنه.
عمر، محمد آصف. (۱۳۹۴). ښه ناول وپېژنیئ. مازیګر کتاب پلورنځی
غضنفر، اسدالله. (۱۳۹٦ل). جادوګرهنر، ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.
الف. منلی، نجیب.( ۱۳۹۹ل). د ابیاتو دنیا.کابل: ارګ



Baghlan University Academic
Research Journal
https://baghlan.edu.af/ Vol. 13, Issue. 2, Serial No. 37 (2025) 133-143

# The Reflection of Certain Bad Customs or Traditions in Contemporary Poetry of Pashto

**Abdul Jalil Hashimi**

Department of Pashto Language and literature, Literature Faculty, Baghlan University, Afghanistan..

**Corresponding Author:** Jalil Hashimi, **E-mail:** hashimi@baghlan.edu.af

**Article Info**

**Article Type:**
Review Article

**Article History:**

**Received:**
17, February, 2025

**Accepted:**
9, June, 2025

**Published:**
20, August, 2025

ABSTRACT

Pashto poetry varies linguistically. The themes across different literary periods have been changed. However, contemporary poetry often includes themes for instance; love for one's own country, nationality, independence, and nature. Many contemporary poets have written verses condemning and seeking to prevent certain bad or unwanted traditions. This encouraged me to develop an article under the title "The Reflection of Certain Bad Customs or Traditions in Contemporary Poetry of Pashto" because, low attention is given to such topics. This paper is focused on presenting contemporary poetry. In addition it also analyzes poems that address the prevention and application of unwanted customs, for example, excessive price of marriage, gender discrimination, neglect of children's rights, ignoring women's rights as well as insincere charity. The writing of poets such as Ustad Alfat, Pir Muhammad Karwan, and Baha'i Jan are examined to illuminate and persuade people to leave such kinds of traditions and costims. The aim is to inspire the nation to adopt better customs and apply them in life, thereby encouraging societal and national progress. The description and analytical method of analyzation has been used in this article for the data. This article also includes methodology, discussions, conclusions, and references.

**Keywords:** Poetry, Unwanted customs, Ways to prevent Bad Customs

To cite this article: Hashimi, A: 2025. The Reflection of Certain Bad Customs or Traditions in Contemporary Poetry of Pashto. Baghlan University Academic Research Journal, Vol. 13, Issue. 2, Serial No. 37 - Summer (2025), 133-143.
License: RCTD – GNJR – 0018 - 23.
Publisher: University of Baghlan



د بغلان پوهنتون علمي او څېړنیزه مجله

مجله علمی ـ تحقیقی پوهنتون بغلان

https://baghlan.edu.af/ Vol 13. Issue. 2, Serial No. 37 (2025) 133-143


# پښتو معاصر شعر کې د ځینو ناوړه دودونو انعکاس


**پوهندوی عبدالجلیل هاشمي**

بغلان پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، د پښتو څانګې استاد.


| اطلاعات مقاله | لنډیز |
|---|---|
| **نوع مقاله:** مقاله مروری<br><br>**تاریخ دریافت:** ۱۴۰۳/۱۱/۲۹ هـ‌ش<br><br>**تاریخ بازنگری:** ۱۴۰۳/۰۱۱/۲۱ هـ‌ش<br><br>**تاریخ پذیرش:** ۱۴۰۴/۰۳/۱۹ هـ‌ش<br><br>**تاریخ انتشار:** ۱۴۰۴/۰۵/۲۹ هـ‌ش | پښتو شعرونه، په بېلا بېلو ادبي دورو کې د ژبني سبک او موضوعاتو له پلوه جوت توپیر لري؛ خو معاصر شعر زیاتره د هېواد سره مینه، ولسپالنه، خپلواکي، د طبیعت سره مینه او دې ته ورته نور موضوعات په خپله لمن کې رانغاړي. پښتو معاصر شعر کې د ځینو ناوړه دودونو د غندنې او مخنیوي په اړه چې کوم شعرونه زموږ د معاصرو شاعرانو له خوا ویل شوي دي، خورا ارزښتمند دي، لوستل یې انسان متاثره کوي؛ نو ما هم وغوښتل، چې ( پښتو معاصر شعر کې د ځینو ناوړه دودونو انعکاس ) تر سرلیک لاندې پرې مقاله ولیکم؛ دا ځکه چې په دې اړه تر اوسه کومه تاګلې څېړنه، نه ده شوې. دې څېړنیزه د معاصرې ادبي دورې هغه شعرونه د راوړل شوي او تحلیل شوي، چې د ناوړه دودو د مخنیوي او غندنې په اړه دي. لکه: لوړ ولور اخیستنه، د جنسیت تو پیر، د ماشومانو حقوقو ته نه پاملرنه، د ښځو حقوق نه ورکول، د ریا خیراتونه، په دې د استاد الفت، پیر محمد کاروان، بهایي جان په کره شعري بېلګې راوړل شوي او تحلیل شوي دي؛ ترڅو د دغو ناوړه دودونو د مخنیوي په وړاندې ملت د سمو دودونو انګیزه پیدا کړي او په ژوند کې یې پلي کړي او ټولنه او ملت د پرمختګ په لوري وهڅوي، په دې مقاله کې مې د کتابتوني او تحلیلي کړنلارې مېتود څخه ګټه اخیستې، مناقشه، پایله او اخځلیکونه هم لري. |


**کلیدي کلمې:** شعر، ناسم او ناوړه دودونه، د ناوړو دودونو د مخنیوي لارې چارې

استناد: هاشمي ، عبدالجلیل. (۱۴۰۴)، پښتو معاصر شعر کې د ځینو ناوړه دودونو انعکاس، مجله علمی-تحقیقی پوهنتون بغلان، شماره۲، تابستان(۱۴۰۴)، شماره مسلسل ۳۷، دور۱۳. (۱۳۳-۱۴۳) .

ناشر: پوهنتون بغلان.

**سريزه**

معاصر شعر کې د ځينو ناوړه دودونو انعکاس تر نامه لاندې څېړنيزه مقاله، په شعري بېلګو کې د انساني ټولنې ناوړه دودونه تحليلوي شاعرانو په خپلو شعرونو کې د سمو دودونو ترڅنګ ناوړه دودونو ته هم پوره پاملرنه کړې، د دغو ناوړه دودونو غندنه يې په شعري ژبه کړې، دا غندنه يې په دې موخه کړې، چې د خپلو خلکو د ناسمو دودونو د اصلاح او سمون د پاره سمې کړنې ترسره کړي. ناوړه دودونه هغه دودونه دي، چې زموږ په اسلامي ټولنه کې له شريعت سره په ټکر کې وي او د انسان فردي او ټولنيز ژوند ته معنوي او اقتصادي زيان رسوي، د ملت مادي او معنوي ارزښتونه، نه شي ساتلی، دا ډول دودونه، ټولنه د پرمختګ او سمون په لوري نه شي هڅولی، ستونزې، ناخوالی او نا امني له منځه نه شي وړلای، بلکې مينه، محبت او يووالی له منځه وړي، دا ناسم دودونه په ځانګړي توګه د ودونو په مراسمو کې په اقتصادي لحاظ د اقتصاد ملا ماتوي؛ نو بريالی ټولنه همغه ده، چې خپلو ناوړه دودونو ته پوره پاملرنه وکړي، د ناسمو دودونو د اصلاح او سمون د پاره هلې ځلې وکړي، د همدې بنسټيزې موخې په توګه دا څېړنه تر سره شوې ده؛ تر څو دا ليکنه د لوستونکو سره مرسته وکړي، چې دا ناوړه دودونه په ژوند کې پلي نه کړي، لکه چې يو شاعر د ناپوهي او بې سوادي په اړه وايي:

نـاپـوه خـوښ يـم راځه پاته هر کمال دی

غـوړولـی مـې پـر سترګو جهل جال دی

جـهـل نــسيم او لـه عـمـله څـخه تښـتم

دوست د ښمن نه پېژنم دا مې احوال دی(خواخوږی، ۱۳۸٦: ۴۸)

په دې مقاله کې د هر ناوړي دود تر نامه لاندې، لکه لوږ ولور اخيستنه، د جنسيت توپير، د ماشومانو حقوقو ته نه پاملرنه، د ښځو حقوق نه ورکول، د ريا خيراتونه، دې ته ورته شعري بېلګې راوړل شوي، بيا تحليل شوي؛ نو په نوموړې څېړنيزې موضوع تر دې دمه پورې هېڅ کوم ليکوال، اديب او څېړونکي څېړنه، نه ده کړې او نه تر اوسه کومه ځانګړي متن په دې هکله زما ترسترګو شوی دی. موضوع پوره نوې ده، د څېړنې ارزښت لري، په شعر کې د ناوړه دود په مخنيوي او غندنه کې د شعر ونډه، تر خپل توان پورې شعرونه څېړلي، تر څو د دې مقالې په لوستولو سره په ټولنه کې

څه نا څه د دودونو په برخه کې مثبت تغیرات را وستل شي، لکه د لوړ ولور اخیستنې ناوړه دود په اړه څو لنډۍ دلته راوړم:

زه بــه دې مــور تـــه زارۍ وکـړم
پـلار دې ظالم دی د ولور تمه لریـنه
ورشـــه لـــه بـلـخــه دنـیـا را وړه
پـه کورنۍ دنیا مې پلار نــه ور کوینه
د هــنــدوســتــان ولـــور تــه ځـمـه
د شــیـرنــو ولور په خپل لاسو، ګټمه(فیضار،۱۳۵۴: ۱۶۷)

## د څېړنې روش

د ټولو علومو د غوړېدا لپاره څېړنې او د څېړنې مېتودونو ته اړتیا ده، چې هره پوهه د څېړنې د مېتودونو په بنسټ تحلیل او روښانه څېړل کېږي؛ نو ما د دې مقالې د لیکنې پر مهال د (تشریحي- تحلیلي) مېتود څخه ګټه اخیستې او اوس دلته خپلې اصلي موضوع ته راځم.

د لوړ ولور اخیستنې په اړه شعري بېلګه:

تــاتـــه وایــم د لـــور پـــلاره
ولـــور مـــه اخـــله دیـــنداره
کـه دولـــت لـــه زومـــه واخـــلې
خـــور او لـــور بـــه دې شـــي خـــواره
هـــم لـــه ځـــانـــه پیـــسې ورکـــه
ظـــروف و فـــروش تـــر ســـما واره
ســـبا درومـــي ســـتا لـــه کـــوره
زړه خـــپـــه تـــــــــــر بـــل دیـــاره
ســـر بـــه یـــې لـوړ وي د زوم پـلاره تـــه
شـــي بـــه یـــې خـــواښـــې مـــنت بـــاره
خـــالـــي لاس کـــه دې واده کـــړه
وي بـــــه میـــنځـــه خـــد مـتګـــاره
یـــو بـــه شـــي لـــه ســـیالـه کـمـه
بـــل بـــه شـــي لـــه تـــا بـــې زاره
ټـــولـــوي بـــه د بـــل وږي

وړې تــــــــرې هــــم قـــرضـــــــداره
پـــــاك نبـــــي حـــضـــرت عـــلي تـــه
ورکـــړه لـــور پــــه لـــس دیـــنــــاره
کـــه نـــبــــیان دي کـــــه ولـــیــان دي
لـــــــــرې گــــــــرځـــــي لـــه آزاره
ورکـــــــړه لــــــور بـــــهــــایـــي جانـــه
خـپل وراره تــه بـــې ســـــناره (واجد، ۱۳۸۴: ۷۳)

شاعر په پورته شعر کې  د لور پلار ته خطاب کوي، چې مسلمان او دینداره هم یې، نو غوره ده، چې د ډېر ولور اخستل ناوړه دود دی، که چېرې ته زیات ولور له خپل زومه واخلې؛ نو د ژوند تجربو ښودلې، چې د دغو ناوړه دود په وجه دوستی په دښمني بدله شي او هم به ستا لور او خور خواره شي، شاعر د خپلوي نه مخکې د خپل لور او خور ډېر ولور اخیستنه ناوړه دود په وجه د هغې د سم او ناسم ژوند حالت یې په شعري انعکاس کې وړاندې کړی دی، د دې څخه وروسته دلور پلار ته وایي: چې د لور او خور ته دې د کور اړین توکي لکه: فرش، لوښي او داسې نور توکي ورکړه او کله چې دا دکور اسباب ورکړې؛ نو طبعا د خپل پلار له کوره به خوشحاله اوځي؛ نو شاعر د هېواد وګړي دې سم دود ته را بولي، چې خپل لور او خور د زیات ولور اخیستنې او د مادیاتو په وجه خپه نه کړې؛ ځکه دا لور او خور دې بل کور ته او بل هېواد ته واده کېږي، د کمې مودې د پاره  ستا په کور کې وي، دلته شاعر د لور او خور څو ورځې ژوند د پلار کره پاتې کېدل او هغوی ته د کور اسباب اخیستل او له ځانه پیسې ورکول، نه خپه کول، دغه ناوړه دودونه د ښادۍ پر ځای د غم سبب ګرځي.

په دې پېسې پیوست شاعر په شعري ژبه د لور پلار ته لارښوونه کوي، چې خپلې لور ته دې د کور او نور د ژوند اړین توکي ورکوه؛ نو د خسر د کور ټولو غړو ته، به سر لوړې وي او هغوی ته دې سر لوړې کړه او په راتلونکي وختونو کې ورته کومه تانه، نه ورکوي، که خالي لاس دې واده کړه؛ نو ستا لور او خور ته د خسر کور کې آزادي نه ورکوي او د مینځې په توګه ژوند کوي او مینځه به وي، دلته د لور او خور کم ولور اخیستنه او د ژوند اړین توکي ورته د سرلوړي سبب دی.

شاعر په خپله دغه شعري انعکاس کې د ولور اخیستونکي پلار ته نصیحت کوي او دې ته یې ملتفت کوي، که ولور دې ډېر واخیست او خپل لور او خور دې خالي لاسونه واده کړه؛ نو یو به له خپلو سیالانو کمه وي، بل به هم له تا بې زاره وي، همدارنګه به د ولور قرضدارۍ له امله، چې پخوا به یې د غنمو وړې ټولول، نو ستا لور به هم د پور له امله وږې ټولوي، چې داسې ناوړه دودونه یو داسې

بد حالت رامنځته کوي، چې دغه ناوړي دودونه شاعر په ښکلو کلماتو او الفاظو په وسیله کښلي دي، چې داسې حالتونه موږ په خپلې ټولنې کې هر وخت مشاهده کوه یې.
شاعر په دې مقطع بیتونو کې خپلو مسلمانو وګړو ته ښوونه کوي، چې تاسې دینداره ولس د خپلو لوڼو او خویندو لوړ ولور یو ناوړه دود دی، لکه څرنګه ستاسو لارښود سرور د کاینات فخرالموجودات حضرت محمد(ص) خپل لور حضرت علي(رض) ته په لس دیناره ورکړه، له دې څخه زیات ولور د ازار او اذیت سبب کېږي، نو کم ولور یا بیخي نه اخیستلو دود د ټولو نبیانو او ولیانو خوښ دی ، همدارنګه بهایي جان خپل ځان ته خطاب کوي، چې خپله لور وراره ته بې پیسو ورکړه، یعنې یوازې وایي نه بلکې په ځان یې هم عملي کوي، نو داچې موږ مسلمانان یو باید د خپل پېغمبرانو په سبک او په پله روان شو؛ نو بهایي جان ناوړه دودونو حالت کښلی دی او داسې دودونه یې غندلي دي. شاعر په خپلو اشعارو کې د تل د پاره ښوته ښه وایي او بدو دودونو ته بد وایي، بهایي جان د ولور اخیستنې شعري انعکاس کې پیغام د لور پلار ته د ولور نه اخستلو پورتنی نصیحت کوي، چې د لور او خور د ولور په اخیستلو کې دې زیاته بې پروایي و نه شي .

د جنسیت توپیر په اړه شعري انعکاس:

زوی او لـــور پـــه حســـاب یـــو دي
فـــــکر وکـــــوه هـــوښـــــیاره
پـلار کـه مـړ شـي بـــاک یـــې نـشـته
ښــــــه ده مـور د لـور دپــاره(واجد، ۱۳۸۴: ۷۳)

شاعر ولس ته لار ښوونه کوي، چې لور او زوی دواړه یو دي، یو په بل کوم برتري نه لري، یوه سترګه دې زوی دی او بله سترګه دې لور ده، چې باید توپیر یې ونه شي، چې تو پېر ته شریعت هم اجازه نه ورکوي، که د ژوند اړین توکي یا مینه او عاطفه باید دواړه سره یوشان وشي او د دواړو ترمنځ عدالت تامین شي، چې دا د بهایي جان په شعري ژبه یو ناوړه دود ګڼلی، د لور د پاره د پلار په نسبت د مور ژوند اړین ګڼي، ځکه چې د مور خپلوان نسبت د پلار خپلوانو ته ګران هم وي، خو د مور مشوره او لارښوونې، تربیت د مور مسولیت زیات وي او مور ژوندیتوب د لور د پاره اړینه ګڼي.
د جنسیت د توپیر په اړه بله شعري بېلګه:

بد بختي چې دا هـــــر ځـلې اولاد زېږوې لــــور وي
اوس وایه په دې کور کې به مې څه سکون سـرور وي

کــه داځــــلې دې لــــور وه زېږولې بيا دې وژنـم
کــه ټول عــالم خبر هم شي په سپين سـبا دې وژنـم
مـېـرمـنې چــې خــولـه پرانسته په ډېره عــاجـزۍ
اواز يــې لونـد پــه اوښـکـو سـره په وينو يې سلګۍ
دا څـــه وايــي تـــوبـــه وبــاســه کفر غـبږوې
کــارونــه دې تــقــديـر دي تــه يــې څنګه بـدلوې
که لور وي او کــه زوی وي د الله له خــوا ډالــۍ دی
مــرغـــان دې د جـنـت، د مـاشـومـنـــو ډيوه کۍ دي
(کاروان،۱۳۹۸: ۷۱۳- ۷۱۴)

د ماشومانو حقوقو ته نه پاملرنې په اړه شعري انعکاس:

د غــريـب د کالـه ماشوم دی هر هلك يو ځل وهـلی
نــاز يــې هيڅ نـه دی ليدلـی، پــه ژړا کور ته راغلی
چـا اخيـستی غـېږ کــې نــه دی له سپرو خاور نه کله
کـور او کلي کې بې قدره خوار او زار دی اوسـېدلی
پـه مکـتب کې ليده نه شي مدرسې ته يې پرېږ دي نــه
لا تـــر اوســـه مـعلم تــه يــا مـلا تـــه نه دی تللی
ريـســانــو حــاکـمــانــو ورتــه هېــڅ کتـلي نه دي
د لـــويـــانــو مجلس ته هېڅکله نه دی ورغـــــلی(روهي، ۱۳۸۶: ۱۱۷)

د ماشومانو حقوقو ته پام نه کول، هم يو ناوړه دود دی، په ځانګړي توګه غريب ماشومان، چې په کور او کلي کې بې قدره او په ښه يا درنه سترګه ورته نه کتل کيږي، هر څوك يې وهي، چې دارنګه ماشومان زمونږ د هېواد په ځينو سيمو کې موجود دي او زمونږ د ټولنې اکثرو سيمو کې د ماشومانو حقونو ته پاملرنه، نه کيږي. د دې پر ځای چې ښوونه او روزنه پرې وکړي، سخت او دهقاني کارونه پرې کوي او د هغوی حقوق تر پښو لاندې کوي او ځانګړې پاملرنه نه ورته کيږي.(ازهري، ۱۳۹۸: ۱۴۵).

د ښځو حقوق نه ورکولو په اړه شعري انعکاس:

بــادونـه د خــزان غـوټــۍ خندا تــه نــه پــرېږدي
ظــالــم صيـاد بـلـبـلـه د ګل خــواته نــه پريږدي

اخــتيار مـې د ځان نشته دی د جبر په مذهب یم
دا دا مــې خپــلې خــوښــې او رضا ته نه پرېږدي
هېڅ نـه شمه ويلی چې په کوم کور کښې بــه سوزم
زمــا د زړه لالیـه! څــوک مــې تـا ته نــه پرېږدي
پــرچــا وکــړم عــرضــونــه چاته وکــړم ژړا زه
دا بــد رســــم و رواج مـې حق ویناته نـه پرېږدي
وهــل کـه تـګــول وي چـــاتـه هېڅ نه شم ويلی
ظــالــم مــې هــم وهي هم مې ژړاته نه پرېږدي
د جــهل پــه تــياره کــې بــه اوسيــږمـه تر کله؟
مــا څــوک د عــلـم و فن پوهې رڼا ته نه پرېږدي
لــه ما نــه تــربيــت د پــوه اولاد غوښتل خطا دي
تعليم تــه مــې چې څوک د مکتب خواته نه پرېږدي( الفت، ۱۳۸۵: ۵۰)

د ريا خيراتونو په اړه شعري انعکاس:

مه کــړئ د ريــا لــپــاره مــا پــــسې خيـرات
ځـــان پــسې نـه غـواړم خــيــراتــونه چشمگير
ورکــړئ خـــريــبانــو ته که وي زمـا څه مال
پټ غوندې له خلکو چې پــه کې نـه وي تشهير
خدای ته ډېر ډېر نيږدې وي له هرچا څخه الفته (الفت،۱۳۸۷: ٦۰)

د رسم او رواجونو په اړه شعري انعکاس:

د دنــيـــــــا رســـــم او رواج
نــــه بيـنا گـــوري نه ړونــد
د شـهـی شاهــو کـــه ړوند وي
رواج کـــلـــه دی بيـــــنـــا (الفت، ۱۳۷۵: ۳۷۱)

د ناوړو دودونو يوه بله شعري بېلگه:

نــه مـطــق دلـتـه چلـيــږي
نـــــــه د عــقـــل نـصيـحت
مـــــاتــوي د اقــتـصـاد مـــلا

درانـــــه پـېــــتـی د رواج
زورور دي رواجــــونـــــــه
ځـــکه نـــه اوري دلــــيـلونـــه(الفت، ۱۳۷۵: ۳۷۲)

استاد گل پاچاالفت ناوړه دودونه غندلي دي، دا ډول ناروا رواجونه چې په شعر کې یې انځور وړاندې کړی دی، ناروا گڼلي، له دې شعري کلام څخه دا څرگندیږي، چې استاد خپلې ټولنې ته لارښوونه کوي، ترڅو هغه رسوم او دودونه، عادتونه چې د اسلام او شریعت په رڼا کې سره سم وي، باید هغه سم دودونه په ژوند کې پلي کړئ.

پیر محمد کاروان صاحب د خپل منځیو جګړو د مخنیوي په اړه وايي:

د رحـمـت پــــرودگـــاره
پرموږ ډېر دمینې پـام کړه
د مـــورکــې وطــن غــېږه
راتـــه، تـــه دارالسلام کـړه
بس د زړه زور مو تمام دی
د جـــنگونـــو اخــتــمام کړه
لـه گاونـــډ او لـــه پـردو مو
ربـه ســاتـه پـــه آمـــــان
تـه خـــو مـینه یې ښکلا یې
تـــه قـهــار یې تـه رحمان
خــوږ د امـــن یــقــین راکړه
د تـراخـه جنـگ لـه گومان
دا وطــن لکـه گـریوان دی
تار په تار دیتیمان(کاروان، ۱۳۹۸: ۹۷۱ )

**مناقشه**

موږ په خپله کې ډېر ناوړه دودونه لرو ; خو د اسلام مبین دین اسلامي ټولنې ته اجازه نه ورکوي، چې په ژوند کې ناوړه دودونه عملي کړي بلکې دا ناوړه دودنو د پاره یې لازمې او اړینې لارښوونې بیان کړي دي، بیا که څوک دا ناوړه دودونه په ژوند کې پلي کړي د هغوي د پاره یې په اسماني کتابونو کې درد ناک عذابونه تعین کړي دي، د داسې دودونو د پاره امر باالمعروف او نهې عن المنکر

اړوند کسان يې د بدو کړنو او ناسم دودونو مخنيوی لپاره ټاکلي دي، چې دا کسان د اسلامي اصولو د پراختيا لپاره اړين دي. ناسم دودونه، چې په دنيا او اخرت کې د انسان د هلاکت او بر بادی سبب کيږي؛ نو اړ يو چې سم دودونه په ژوند کې پلي کړو او د ناوړودودونو څخه ځان وساتو، تر څو مو د دنيا او آخرت د بريا ، نيکمرغی سبب شي، دغو معاصرو شاعرانو د ناوړه دودنو ترڅنگ د سمو دودونو انعکاس هم په خپلو شعرونو کې کړی ده. لکه: جرگه او مرکه، مېلمه پالنه، د ناروغ پوښتنه، په اخترونو کې خوښی کول، د ې ته ورته سم دودونه په خپلو شعرونو کې يادونه کړې ده.

ځينو مسلمانانو د خپل فکر او عقل له مخې خراب، ناسم دودونو ته مخه کړې ده، که فکر وکړو،موږ ډېر داسې ودونه ليدلي دي، چې شاعرانو يې په خپل شعر کې هغه ناسم دودونه غندلي دي، د غو شاعرانو په خپل شعر سره سم اسلامي شريعت ته په پام سره ناوړه دودونه بيان کړي، په دې مقاله کې تحليل شوي دودونه ناروا دي او موږ ته يې له اسلام پرته د بل څه سپارښتنه نه ده کړې. د دې ترڅنگ ديني عالمانو هم په منبر ناوړه دودونه بد گڼلي، پر هر مسلمان واجب دی، چې اسلام له رسوم حتی له مور او پلار او ټولو کايناتو نه لوړ وگڼي او د اسلام په مقابل کې هيڅ شي او ناروا دودنو ته ارزښت ورنه کړئ، په شريعت ايمان لرو، خو بيا هم په خپلو ناوړو دودونو وياړو.

په دې موضوع اړوند نه يوازې شاعرن يا بلکي ديني عالمان او د کليو امامان، قومي مشران او د ځواک څښتنان کولای شی، چې په دې ناوړو دودونو په مخنوي کې خپله دينی مسووالیت او دينی وجيبه په سمه توگه تر سره کړي او په دغه ناوړه دودو د مخنيوي لارې چارو په اړه جدي اقدامات ترسره کړي، ترڅو پورې دا ناوړي دودونه د انسان د دنيا او اخروي ژوند د هلاکت او بد بختی سبب نه شي.

**پايله**

دا چې د ناوړو دودونو څخه پلار د لور د لوړ ولور اخيستنې دود زموږ په ټولنه کې ډېر دی، د دغه ناوړه دود د مخنيوي په اړه شاعرانو نسبتآ د نورو دودونو په پرتله، ډېرې شعري بېلگو کې انعکاس کړي دي، خلکو ته يې پخپلو په زړه پورې شعرونو کې د دې ناوړي دود په اړه اړينې لار ښوونې کړي دي او په ځرگند ډول يې ورته په شعري ژبه د نجلي پلار ته نصحت کوي، د نجلی پلار ته د لوړ ولور نه اخستلو او لور او خور په کور کې ساتل مناسب دود نه گڼي، او په ځينو شعري بېلگو کې يې په ډاگه داسې وايي: چې لور د ې خره نه ده ، چې د پيسو په مقابل کې يې خرڅه کړې بلکې يوه انسانه ده ، که خرڅه دې کړه، نو د محشر په ورځ به څه کوې.

دغه ناوړو دودونه لکه: (لوږ ولور اخيستنه، په بدو کې ښځه ورکول، ماشومانو کې د نر او ښځې توپير، د مړي خښول، بدل(شغار) د ښځو حقوق نه ورکول، بې سوادي او په اسلام نه پوهېدل، د ماشومانو حقوقو ته نه پاملرنه، اصراف کول او د نوې عصري تکنالوژي څخه ناوړه کټه اخيستل) دې ته ورته ناوړو دودونو په هکله شاعرانو په ښکلو الفاظو کې بيان کړي دی، دغو شاعرانو خلک هڅولي دي، چې د ناوړودودونو د تر ويج څخه ځانونه وژغوري، تل د افغاني او اسلامي رواجونو او سمو دودونو څخه په ژوند کې ګټه پورته کوي، خو ما د پورته ياد شوو ناسمو دودونو په هکله ځينې شعري بېلګې را وړي دي او د ځينو بېلګو په را وړو ونه توانيدم، چې دلته راوړم.

دا ناوړه دودونه که څه هم زموږ د فرهنګ جز ګنل شوی دی، چې د يو هېواد او ټولنې خلک ناسمې لارې په لور سوق کوي، دغه اغېزناک شعرونه کولای شي، هر ډول ناسم دود په اړه پوهاوی او شکونه له منځه يوسي، خپل فرهنګ او سم دود تلپاتې وساتي، حتی نړيوالوته خپل سم دودونه په شعري ژبه او نورو روشونو په وسيله ښکاره کولای شي.

**مأخذونه**


الفت، ګل پاچا.(۱۳۷۵). شعري کليات.(دريېم چاپ). ترتيبونکی شهرت ننګيال. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

لفت، ګل پاچا. (۱۳۸۵). د الفت نثري کليات. د عبدالرحيم بختاني په زيار. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

ازهري، فريدالله. (۱۳۹۸ ل). ناوړه دودونه او د شريعت په رڼا کې د هغو حل. اول چاپ. کابل: د ارشاد حج او اوقافو وزارت د اسلامي علومو د مطالعاتو رياست.

حبيب زوی، عبدالرحمان. (۱۳۹۵). د بهايي جان کليات. پېښور: لوکرانا خپرندويه ټولنه.

خواخوږی، محمد ابراهيم. (۱۳۸٦). د مينې وږمه. کندهار: د خواخوږي ادبي او کلتوري ټولنه.

روهي.محمد صديق.(۱۳۸٦).ادبي څېړنې.پېښور:دانش خپروندیه ټولنه.

کاروان، پيرمحمد. (۱۳۹۸). نغمه زېږدې زمانې کليات. کابل: د افغانستان د خپلواکی بېرته اخيستلو د سلم کال په وياړ.

نورستانی، عاطفه. (۱۳۸۸). په پښتو لنډيو کې د مور مقام. کابل: کابل مجله. (۱۱- ۱۲)ګڼه. دولتي مطبعه.

واجد، عبدالواجد. ( ۱۳۸۴). د بهايي جان کلياتو ته يوه لنډه کتنه. کابل: کابل مجله. (۸-۷)ګڼه. دولتي مطبعه.

يون، محمد اسماعيل.(۱۳۸۷). دالفت نثري کليات. کابل: يون کلتوري يون.

فيضار، شيراحمد او حبيب الله. (۱۳۵۴). د پښتو څېړنو د نړيوال مرکز سيمينار د مقالو مجموعه. کابل: پښتو ټولنه.



Baghlan University Academic Research Journal

https://baghlan.edu.af/ Vol. 13, Issue. 2, Serial No. 37 (2025) 145-155

# Assessment the nutrition methods of Bacteria's

**Mohammad Ayoub Hanafi**

Member of Biology department, education faculty, Baghlan University

**Corresponding Author**: Mohammad Ayoub Hanafi, **E-mail**: mohammadayoubhanafi@gmial.com

**Article Info**

**Article Type:**
Review Article

**Article History:**

**Received:**
27, August,2025

**Accepted:**
1, June, 2025

**Published:**
20, August, 2025

**ABSTRACT**

Bacterial nutrition is one of the important issues physiology microbial that plays a key role in understanding microbial ecology, biogeochemical eras, and biotechnology adaptations, the aim in this study, by systematically reviewing scientific resources, a variety of bacterial feeding methods were classified based on energy sources (light or chemical citrus) and carbons sources (organic or inorganic). The present research has been conducted in a review to collect, analyze and organize knowledge in the field of bacterial feeding methods. The findings show that bacteria are divided into four main groups, including photoautotrophs, photo heterotrophs, chemoautotrophs, and chemo heterotrophs, however, the emergence of concepts such as mix trophy and the discovery of species with full nitrification has challenged classical modules. The examination of the ecological roles of each group indicates their importance in stabilizing carbons, recycling nitrogen and decomposition of organ citrus in natural ecosystems.

**Keywords:** Bacteria nutrition, phototroph, chemotrophic, mix trophy, nitrification.

To cite this article: Hanafi, M: 2025. Assessment the nutrition methods of Bacteria. Baghlan University Academic Research Journal, Vol. 13, Issue. 2, Serial No. 37 - Summer (2025), 145-155. License: RCTD – GNJR – 0018 - 23.

Publisher: University of Baghlan



د بغلان پوهنتون علمي او څېړنيزه مجله

مجله علمی ـ تحقیقی پوهنتون بغلان

https://baghlan.edu.af/ *Vol 13. Issue. 2, Serial No. 37 (2025) 145-155*


# بررسی روش‌های تغذیه باکتریاها


**پوهنمل محمد ایوب حنفی**

عضو کادر علمی دیپارتمنت بیولوژی، پوهنحی تعلیم و تربیه، پوهنتون بغلان.


| اطلاعات مقاله | چکیده |
|---|---|
| **نوع مقاله:**<br>مقاله مروری<br><br>**تاریخ دریافت:**<br>۱۴۰۴/۶/۵ هـش<br><br>**تاریخ پذیرش:**<br>۱۴۰۴/۰۳/۱۱ هـش<br><br>**تاریخ انتشار:**<br>۱۴۰۴/۰۵/۲۹ هـش | تغذیه باکتریاها یکی از موضوعات مهم فیزیولوژی میکروبی میباشد که نقش اساسی در درک ایکولوژی میکروبی، دوران‌های بیوجیوکیمیاوی، و تطبیقات بیوتکنالوژی ایفا می‌کند.هدف این مطالعه، با مرور نظام‌مند منابع علمی، انواع روش‌های تغذیه باکتریاها بر اساس منابع انرژی (نور یا مرکبات کیمیاوی) و منابع کاربن (مواد عضوی یا غیرعضوی) طبقه‌بندی شده‌اند. تحقیق حاضر به شکل مروری به منظور جمع آوری، تحلیل و سازمان دهی دانش در زمینه روش های تغذیه باکتریا ها انجام یافته است. یافته‌ها نشان می‌دهد که باکتریاها در چهار گروپ اصلی شامل فوتواتوتروف‌ها، فوتوهتروتروف‌ها، کیمواتوتروف‌ها و کیموهتروتروف‌ها قابل تقسیم‌اند؛ با این حال، ظهور مفاهیمی مانند میکسوتروفی و کشف گونه‌هایی با توانایی نایتریفیکیشن کامل،مودل‌های کلاسیک را با چالش مواجه ساخته است. بررسی نقش‌های ایکولوژیکی هر گروپ، بیانگر اهمیت آن‌ها در تثبیت کاربن، بازیافت نایتروژن و تجزیه مرکبات عضوی در ایکوسیستم‌های طبیعی می‌باشد. |
| **واژه های کلیدی:** | تغذیه باکتریا، فوتوتروف، کیموتروف، میکسوتروفی، نایتریفیکیشن. |


استناد: حنفی ، محمد ایوب. (۱۴۰۴)، بررسی روش‌های تغذیه باکتریاها ، مجله علمی-تحقیقی پوهنتون بغلان، شماره۲، تابستان (۱۴۰۴)، شماره مسلسل ۳۷، دور۱۳. (۱۴۵-۱۵۵) .

ناشر: پوهنتون بغلان.

**مقدمه**

دانستن روش‌های تغذیه باکتریاها، یکی از اصول بنیادی در علم میکروب‌شناسی و ایکولوژی میکروبی محسوب می‌شود (Madigan & Martin, 2005). باکتریاها از جمله متنوع‌ترین موجودات زنده از نظر میتابولیکی هستند (Koneke, 2009) که برای ادامه حیات و انجام وظایف حجروی خود به تأمین مداوم انرژی و کاربن نیاز دارند. بر اساس منابع انرژی و کاربن مورد استفاده، باکتریاها به گروپ‌های مختلف تغذیه‌ای تقسیم می‌شوند. دو گروپ اصلی شامل *فوتوتروف ها*، که انرژی خود را از نور خورشید دریافت می‌کنند، و *کیموتروف ها*، که انرژی را از مرکبات کیمیاوی به دست می‌آورند، هستند (Madigan et al., 2018). فوتوتروف‌هایی مانند سیانوباکتریاها و باکتریاهای سلفردار بنفش، از طریق تعامل فوتوسنتز کاربن دای‌اکساید را به مرکبات عضوی تبدیل می‌کنند؛ برخی از آن‌ها فوتوسنتز اکسیژنی (همراه با تولید اکسیژن) انجام می‌دهند، در حالی که برخی دیگر از تعاملات بدون اکسیژن استفاده کرده و موادی مانند سلفر تولید می‌کنند (Tang et al., 2011). در مقابل، کیموتروف‌ها با اکسیدیشن مرکبات عضوی یا معدنی مانند آمونیا یا نایتریت انرژی لازم را کسب کرده و در تعاملاتی مانند دوران نایتروژن نقش کلیدی دارند (Dams et al., 2015).

تنوع روش‌های تغذیه باکتریاها نه‌تنها از منظر درک وظایف ایکولوژیکی آن‌ها در ایکوسیستم‌ها اهمیت دارد، بلکه در زمینه‌هایی نظیر زراعت پایدار، تصفیه فاضلاب، حفاظت محیط زیست و بیوتکنالوژی نیز کاربردهای گسترده‌ای دارد (Ponoka, 2009). با این وجود، علیرغم نقش حیاتی باکتریاها در دوران مواد و پروسه‌های صنعتی، دانش مربوط به تنوع و روش‌های تغذیه‌ای آن‌ها مساله است که در بسیاری از منابع علمی به‌ویژه متون آموزشی فارسی‌زبان به‌درستی معرفی نشده است. اکثر کتاب‌های درسی موجود به طبقه‌بندی‌های ساده بسنده کرده و به بررسی جزیات بیوکیمیاوی و زمینه‌های ایکولوژیک تغذیه باکتریایی نمی‌پردازند(Madigan et al., 2018) . این در حالی است که تحقیقات جدید، رفتارهای تغذیه‌ای پیچیده‌تری مانند نباتات *میکسوتروفی* (استفاده همزمان از منابع عضوی و غیرعضوی) را آشکار کرده‌اند و گروپ‌های جدیدی از باکتریاها با ظرفیت‌های میتابولیکی ناشناخته شناسایی شده‌اند(Dams et al., 2015; Hug et al., 2016) .

اهمیت این موضوع در آن است که تغذیه باکتریایی اساس بسیاری از پروسه‌های بزرگ مقیاس طبیعی و صنعتی را تشکیل می‌دهد. باکتریاها در دوران بیولوژیکی عناصر حیاتی مانند کاربن، نایتروژن و سلفر، نقش تعیین‌کننده‌ای داشته و باعث پایداری و دوران دوباره مواد مغذی در محیط

می‌شوند(Falkowski et al., 2008) . در ساحات عملی، شناخت دقیق از روش‌های تغذیه‌ای آن‌ها زیربنای تکنالوژی‌هایی همچون تصفیه بیولوژیکی آلوده‌کننده‌ها، کمپوست‌سازی، تولید سوخت‌های بیولوژیکی، و انجنیری میکروبی محسوب می‌شود(Lee et al., 2012) . به‌طور خاص، باکتریاهای کیمولیتوتروف در تصفیه‌خانه‌های فاضلاب و باکتریاهای فوتوتروف در تولید اکسیژن در محیط‌های آبی به کار گرفته می‌شوند(Madigan et al., 2018; Tang et al., 2011) .

مطالعه تغذیه باکتریاها سابقه‌ای بیش از یک قرن دارد. در اواخر قرن نوزدهم، سرگئی وینوگرادسکی دانشمند روسی برای نخستین بار مفاهیم مرتبط با کیمولیتوتروفی را مطرح کرد. وی نشان داد که برخی باکتریاها می‌توانند بدون نیاز به نور خورشید از طریق اکسیدیشن مرکبات غیرعضوی مانند مانند آمونیا ($NH_3$) و هایدروجن سلفاید ($H_2S$) انرژی مورد نیاز خود را تأمین کنند(Dworkin et al., 2006) . این کشف نقطه عطفی در تاریخ فیزیولوژی میکروبی بود که نشان داد روش های تغذیه ای باکتریاها فراتر از مسیر کلاسیک فوتوسنتیز است. در قرن بیستم و با پیشرفت لوازم لابراتواری و تکنالوژی های مایکروسکوپی ساختار طبقه‌بندی باکتریاها بر اساس منبع انرژی و کاربن تکمیل شد. آثار کلاسیک مانند Brock Biology of Microorganisms این مفاهیم را استندرد ساخته و طبقه‌بندی چهارگانه ی فوتوتروف‌ها، کیموتروف‌ها، لیتوتروف‌ها و ارگانوتروف‌ها را به عنوان بنیان درک میتابولیسم میکروبی تثبیت کرد (Madigan e, 2018) تحقیقات دهه‌های اخیر با ورود تکنالوژی مدرنی مانند میتاجنومیکس، بیوانفورماتیک و ترانسکریپتومیکس افق تازه ای را بر درک رفتارهای تغذیه باکتریاها گشودند. برای مثال (Hug et al .2016) با تحلیل میتاجنوم های محیطی، گروپ های جدیدی از باکتریا ها با توانایی های میتابولیکی متفاوت را شناسای کردند. از دیگر دستاورد های اخیر می‌توان به کشف گونه‌هایی مانند Nitrospira in piñata اشاره کرد که که قادر به انجام نایتریفیکیشن کامل بوده و الگوی های کلاسیک چرخه نایتروژن را به چالش کشیداند ( Dams et al., 2015). همچنین مفهوم میکسوتروفی، یعنی توانایی استفاده همزمان از منابع انرژی و کاربن عضوی و غیرعضوی، توجه زیادی را به خود جلب کرده است. پژوهش هایی مانند

(Tang et al., M2011; Erbil Gin et al., 2014). نشان داده اند که بسیاری از باکتریاها در محیط های طبیعی توانایی تغییر مسیر تغذیه ای خود را بسته به شرایط محیطی دارند. که این موضوع نشان دهنده ی انعطاف پذیری بالای آن ها است. در مجموع، مرور آثار موجود نشان میدهد که

تغذیه باکتریایی یک حوزه ی پویا و در حال تحول است که نه تنها به فهم بهتر دوران مواد در طبیعت کمک می‌کند، بلکه اساس توسعه بیوتکنالوژی محیط زیست و زراعت پایدار نیز فراهم می آورد (Konopk,2009;Xu & Yang,2018).

هدف اصلی این تحقیق، ارایه‌ی یک مرور منظم و به‌روز از روش‌های تغذیه باکتریاها بر پایه‌ی منابع معتبر علمی است. این تحقیق تلاش دارد تا با بررسی ابعاد گوناگون میتابولیسم تغذیه باکتریا، نقش آن‌ها را در تعاملات ایکولوژیکی و بیوتکنالوژی تبیین کند. اهداف اختصاصی این تحقیق ارایه‌ی یک طبقه‌بندی جامع از باکتریاها بر اساس نوع روش تغذیه آن‌ها، با تمرکز بر منبع انرژی (نوری یا مرکبات کیمیاوی) و منبع کاربن (مواد عضوی و غیرعضوی)؛ توصیف میکانیسم میتابولیکی مرتبط با هر گروپ تغذیه‌ای، از جمله فوتواتوتروف‌ها، فوتوهتروتروف، کیمواتوتروف ها و کیمو هتروتروف ها؛ تحلیل اهمیت ایکولوژیکی و کاربردی روش‌های تغذیه باکتریاها در محیط‌های مختلف مانند خاک، آب، و صنعت؛ معرفی نمونه‌هایی از گونه‌های باکتریایی شاخص برای هر نوع روش تغذیه‌ای بر اساس یافته‌های نوین علم. با توجه به خلای دانش موجود و لزوم به‌روزرسانی طبقه‌بندی‌ها و کاربردها بر اساس یافته‌های نوین، ضرورت انجام یک مرور ساختاریافته و جامع از منابع علمی معتبر احساس می‌شود؛ مروری که نه‌تنها منطق میتابولیکی انواع تغذیه باکتریایی را تشریح کند، بلکه اهمیت ایکولوژیکی و تکنالوژیکی آن‌ها را نیز مورد تحلیل قرار میدهد. چنین تحقیقی می‌تواند نقش مؤثری در بهبود آموزش علم مایکروبیولوژی، توسعه تکنالوژی های بیولوژیکی و ارایه راهکارهای نوین برای چالش‌های محیط زیستی ایفا کند.

این تحقیق یک مطالعه مروری است که به هدف جمع‌آوری، تحلیل و سازمان‌دهی دانش موجود در زمینه‌ی روش‌های تغذیه باکتریاها انجام شده است. جستجوی منابع علمی از پایگاه‌های معتبر انجام گرفت. کلمات مورد استفاده در این جستجو عبارت از: کیموتروف، فوتوتروف ها، میتابولیزم، استراژی های تغذیه باکتریا، روش ایکالوژی باکتریا، صنف بندی باکتریا، میکسوتروف ها، اورگانوتروف ها، مایکروبیولوژی محیط زیستی و لیتوتروف ها می‌باشد.

**تغذیه باکتریا ها**

باکتریا ها موجودات یک حجروی کوچک و ذره بینی می‌باشد و برای نمو و تامین انرژی مورد نیاز خویش به تغذیه مواد غذای ضرورت دارند که به حیث منبع انرژی جهت اجرای عملیه های حیاتی

و به قسم مواد ساختمانی برای اعمار اجزای حجره به مصرف میرسند و از منابع مختلف آن را تامین می‌کنند(Tang et al., 2011) .

**روش‌های تغذیه باکتریاها**

مرور نظام‌مند منابع علمی نشان می‌دهد که روش‌های تغذیه باکتریاها بر اساس منبع انرژی و منبع کاربن قابل طبقه‌بندی به چهار گروپ اصلی هستند. این گروپ‌بندی نه‌تنها نشان‌دهنده تنوع میتابولیکی باکتریاها است، بلکه انعکاس‌دهنده‌ی نقش ایکولوژیکی گسترده‌ی آن‌ها در ایکوسیستم‌های طبیعی و مصنوعی نیز است(Madigan et al., 2018) .

**۱ . فوتو اتوتروف‌ها**

این گروپ از نور آفتاب به‌عنوان منبع انرژی و از کاربن دای‌اکساید ($CO_2$) به‌عنوان منبع کاربن استفاده می‌کنند. نمونه‌های برجسته آن شامل سیانوباکتریاها و باکتریاهای سلفردار سبز می‌باشند که در سطح اقیانوس‌ها، دریاچه‌ها و خاک‌های مرطوب یافت می‌شوند.

**نقش ایکولوژیکی:** این باکتریاها در تثبیت بیولوژیکی کاربن نقش کلیدی دارند و به‌واسطه‌ی تولید اکسیژن، نقش عمده‌ای در تکامل ایکوسیستم‌های آبی و شکل‌گیری زنجیره غذایی ایفا می‌کنند . (Stale, 2012)

**۲. فوتوهتروتروف**

این باکتریاها از نور برای تأمین انرژی استفاده می‌کنند، ولی برای تأمین کاربن خود به مرکبات عضوی مانند اسیدهای عضوی، الکول‌ها یا قندها وابسته‌اند. نمونه‌هایی از این گروپ شامل باکتریاهای بنفش غیرسلفردار هستند که توانایی رشد در شرایط غیرهوازی یا مایکروآیروفیل را دارند (Tang et al, 2011).

نقش ایکولوژیکی: این باکتریاها عمدتاً در محیط‌های کم‌نور، مانند تالاب‌ها، رسوبات بدون اکسیژن و فاضلاب‌ها فعال‌اند و در دوران و تجزیه مواد عضوی سهم دارند(Stale, 2012).

**۳ .کیمواوتوتروف‌ها (یا کیمولیتواوتوتروف‌ها)**

این باکتریاها انرژی خود را از طریق اکسیدیشن مرکبات غیرعضوی مانند آمونیا ($NH_3$)، هایدروجن سلفاید($H_2S$) ، یا آهن ($Fe^{2+}$) به دست می‌آورند و از $CO_2$ به‌عنوان منبع کاربن استفاده می‌کنند. به طور مثال، Nitrobacteria ، Nitrosamines و Beggiatoa از جمله باکتریاهایی هستند که در تعامل نایتریفیکیشن و دوران‌های بیوجیوکیمیاوی مشارکت دارند(Tang et al., 2011) .

نقش ایکولوژیکی: این باکتریاها در تثبیت نایتروژن، اکسیدیشن سلفر، و بازیافت فلزات نقش دارند که در تصفیه‌خانه‌های فاضلاب، خاک‌های اسیدی و بسترهای دریا قابل مشاهده‌اند (Dams et al., 2015) .

**۴ .کیموهتروتروف‌ها**

باکتریاهای این گروپ از مرکبات عضوی مانند گلوکوز، لکتات(Lactate)، اسیدهای چرب و پروتین‌ها به‌طور همزمان به‌عنوان منبع انرژی و کاربن استفاده می‌کنند. نمونه‌هایی عده ای این ها مانند ایشریشیا کولی در روده انسان، پسیدوموناس( Pseudomonas ) در خاک و محیط‌های مرطوب، لکتوباسیلوس( Lactobacillus ) در تخمیر غذا شامل این گروپ باکتریاها اند. برخی این ها به شکل ساپروفایت بالای اجساد مرده حیوانی و نباتی زندگی نموده و از انساج آن ها تغذیه می‌کنند که اجساد تمام حیوانات و نباتات مرده، مواد فاضله حیوانی و نباتی، شیر و نان که دارای مواد عضوی می‌باشند تجزیه نموده و غذای قابل استفاده را از آن ها به دست میاورند. در نتیجه فعالیت تغذیوی، ساپروفایت ها باعث پوسیدن مواد عضوی میگردند. این مایکرواورگانیزم ها به دوران انداختن مواد عضوی بیکاره جهانی نیز میگردند محصول نهای تجزیه مواد عضوی آب ، کاربن دای اکساید و نایتروجن می‌باشند و این مواد مجدداً به محیطی که درابتدا از آن به دست امده بود آزاد میگردد.

**نقش ایکولوژیکی:** این باکتریاها نقش اساسی در تجزیه مواد عضوی، تعاملات تخمیری مانند تولید ماست و سرکه، عامل امراض در بدن میزبان و زندگی همزیستی با نباتات ایفا می‌کنند (Xu & Yang, 2018).

**یافته‌ها**

مطالعه حاضر با مرور منابع علمی معتبر و به‌روز، انواع طبقه‌بندی و میخانیکیت تغذیه باکتریاها را مورد بررسی قرار داد. یافته‌ها نشان می‌دهند که تغذیه باکتریاها نه‌تنها تابع منبع انرژی و منبع کاربن است، بلکه تحت تأثیر انعطاف‌پذیری میتابولیکی، شرایط محیطی، و توانایی استفاده ترکیبی از منابع غذایی نیز قرار دارد. بر اساس تحلیل منابع علمی، یافته‌های کلیدی این تحقیق نشان می‌دهند که چهار گروپ اصلی تغذیه شامل فوتواتوتروف‌ها، فوتوهتروتروف‌ها، کیمواتوتروف‌ها و کیموهتروتروف‌ها، همچنان چوکات مؤثری برای تفکیک روش‌های تغذیه باکتریاها فراهم می‌کنند.

با این حال، شواهد میتاجنومیکی نشان می‌دهد که بسیاری از گونه‌ها دارای انعطاف‌پذیری بالا بوده

و در شرایط خاص قادر به تغییر نوعیت تغذیه هستند. هر نوع باکتریا دارای وظایف خاص ایکولوژیکی نیز می‌باشند:

۱. فوتواتوتروف‌ها: در تولید اولیه در تثبیت کاربن و تولید اکسیژن نقش دارند و در آب‌های سطحی و خاک‌های مرطوب غالب اند .

۲. فوتوهتروتروف‌ها: در محیط‌های کم نور و غنی از مواد عضوی فعالیت می‌کنند و در تجزیه مرکبات عضوی مؤثراند.

۳. کیمواوتوتروف‌ها: از طریق اکسیدیشن مواد غیرعضوی در دوران نایتروژن، سلفر و آهن نقش دارند.

۴. کیموهتروتروف‌ها: در تجزیه مواد عضوی، تخمیر، تولید مرض و هم‌زیستی نقش اساسی ایفا می‌کنند.

همچنان کشف باکتریاهایی مانند(*Nitrospira inopiñata*) که قادر به انجام نایتریفیکیشن کامل است، نشان می‌دهد که باکتریاها می‌توانند وظایفی را انجام دهند که پیش‌تر تصور می‌شد نیازمند کانسرسیوم میکروبی است. بسیاری از باکتریاها نظر به شرایط محیطی، بین روش‌های تغذیه‌ای مختلف جابه‌جا می‌شوند. این ویژگی که با عنوان میکسوتروفی شناخته می‌شود، در ایکوسیستم‌های آبی و خاکی گزارش شده و نشان‌دهنده‌ی سازگاری قابل‌توجه باکتریاها با محیط است. یافته‌ها همچنان نشان می‌دهد که اگرچه دانش تغذیه باکتریایی در سطح بنیادی به‌خوبی توسعه یافته، اما کاربرد آن در پالیس‌های اقلیمی، زراعت پایدار، و تصفیه بیولوژیکی هنوز محدود و پراکنده است.

**مناقشه**

نتایج این مطالعه نشان می‌دهد که باکتریاها از طریق روش‌های تغذیه‌ای متنوع، توانایی بالایی برای تطابق با شرایط محیطی مختلف دارند. طبقه‌بندی سنتی روش‌های تغذیه باکتریاها را بر اساس منبع انرژی (نور یا مرکبات کیمیاوی) و منبع کاربن (مواد عضوی یا غیرعضوی) طبقه‌بندی می‌کند. با این حال، شواهد جدید تحقیقی نشان می‌دهند که میتابولیسم باکتریایی بسیار پویاتر و منعطف‌تر از آن چیزی است که در تقسیم‌بندی‌های کلاسیک منعکس شده است. یکی از نکات برجسته در مطالعات اخیر، توانایی برخی باکتریاها برای تغییر روش تغذیه خود در پاسخ به تغییرات محیطی است. به‌عنوان مثال، گونه‌هایی وجود دارند که نظر به شرایطی چون دسترسی به اکسیژن، شدت نور یا غلظت مواد مغذی، میان اتوتروف‌ها و هتروتروف‌ها جابه‌جا می‌شوند(Hug et al., 2016) . این

انعطاف‌پذیری میتابولیکی بستر مناسبی برای بقا و سازگاری باکتریاها در ایکوسیستم‌های متنوع، از اقیانوس‌ها گرفته تا رسوبات غیرهوازی، فراهم می‌سازد. از دیگر دستاوردهای تحقیقات جدید، کشف باکتریاهای کومیکس( Commix) که قادراند پروسه نایتریفیکیشن کامل آمونیا را به‌تنهایی انجام دهند(Dams et al., 2015) . این کشف یافته‌های کلاسیک از نقش‌های متمایز باکتریاها که دوران نایتروژن را به چالش کشیده است. همچنین، شواهد رو به افزایش از وجود روش‌های میکسوتروفی در محیط‌های خاکی و آبی نشان‌دهنده پیچیدگی بیشتر رفتارهای تغذیه‌ای است (Morris et al., 2011).

با وجود پیشرفت‌های چشمگیر، همچنان خلاهای دانشی قابل‌توجهی در زمینه تغذیه باکتریاها وجود دارد. از جمله این موارد می‌توان به نقش گونه‌های غیرقابل کشت، مسیرهای میتابولیکی کمتر شناخته‌شده مانند اکسیدیشن میتان یا آهن، و بهره‌برداری از مودل‌های میتابولیکی برای مدیریت پایدار محیط زیست و زراعت اشاره کرد (Zengler & Zara mile, 2018; Schmidt et al., 2016).

**نتیجه‌گیری**

این مطالعه، مرور جامعی بر روش های تغذیه باکتریاها، میکانیزم میتابولیکی، نقش‌های ایکولوژیکی و کاربردهای بیوتکنالوژی آن‌ها تاکید کرده است. تنوع چشمگیر روش‌های تغذیه، نشان دهنده انعطاف‌پذیری و سازگاری بالای باکتریاها با شرایط محیطی متغییر است. باکتریاها در پروسه‌های کلیدی همچون تولید اولیه، دوران مواد، تجزیه بیولوژیکی مواد عضوی، و تصفیه آلوده‌کننده‌ها نقش اساسی ایفا می‌کنند. درحالی که طبقه‌بندی کلاسیک (فتواتوتروف، فتوهتروتروف، کیمواتوتروف، کیموهتروتروف) همچنان مفید است، اما یافته‌های اخیر بر وجود روش‌های تغذیه‌ای ترکیبی و میتابولیسم‌های غیرسنتی تأکید دارند. پیشرفت‌های مایکروبیولوژی محیطی در سال‌های اخیر، چشم‌انداز تازه‌ای از پیچیدگی و تنوع روش‌های تغذیه باکتریاها در اختیار محققان قرار داده است.

در نهایت، درک بهتر از این روش‌ها نه تنها به روشن‌تر شدن نقش باکتریاها در ایکوسیستم‌ها منجر می‌شود، بلکه زمینه‌ساز انکشاف کاربردهای جدید در زراعت، مدیریت زباله، و تصفیه بیولوژیکی خواهد بود.

## پیشنهادات

۱. بسیاری از گونه‌های باکتریایی در شرایط لابراتواری قابل کشت نیستند، اما در محیط‌های طبیعی فعال هستند. استفاده از میتاجنومیک، میتاترانسکریپتومیک و روش‌های تصویر برداری نوین می‌تواند به شناسایی و تحلیل نقش این باکتریاها در دوران مواد مغذی کمک کند.

۲. تحقیق در مورد باکتریاهایی که همزمان از منابع عضوی و غیرعضوی استفاده می‌کنند، می‌تواند دیدگاه دقیق‌تری از انعطاف‌پذیری میتابولیکی ارایه دهد. بررسی تأثیر فاکتورهای محیطی بر انتقال بین حالت‌های تغذیه‌ای، از اهمیت ویژه‌ای برخوردار است.

۳. شناسایی نمودن باکتریاهایی که در اکسیدیشن آهن، منگنیز یا میتان نقش دارند، در محیط‌های خاصی مانند رسوبات، معادن یا تالاب‌ها یافت می‌شوند. مطالعات بیشتر می‌تواند به درک بهتر از این مسیرها و کاربردهای بالقوه آن‌ها در تصفیه بیولوژیکی منجر شود.

۴. ترکیب داده‌های جنومی و ایکولوژیکی با مودل‌سازی ریاضی می‌تواند برای پیش‌بینی وظیفه باکتریاها در محیط‌های متغییر و در طراحی سیستم‌های انجنیری بیولوژی، مفید واقع شود.

